د جمهوریت له سقوط او واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د ښځینه خبریالانو او د رسنیز ډګر د وضعیت په اړه راپور

د جمهوریت له سقوط او واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د ښځینه خبریالانو او د رسنیز ډګر د وضعیت په اړه راپور

د هېواد په ۱۹ ولایتونو کې دمګړی هیڅ خبریاله یا ښځینه کار کوونکې فعالیت نه لري.
دا واقعیت ددې ښکارندویي کوي، چې په هېواد کې د ښځو غږ چې د ټولنې نیمایي برخه جوړوي، خاموشه شوې ده او دا له بشري حقونو څخه ښکاره سرغړونه ده.
په افغانستان کې له سیاسي بدلون او د سیاسي رژیم له بدلون وروسته، د جمهوریت پر مهال د ۲۴۸ تلویزونونو څخه اوسمهال یوازې ۶۸ ټلویزیوني شبکې، له ۴۳۸ راډیوګانو څخه یوازې ۲۱۱ راډیوګانې او له ۹۱ ورځپاڼو څخه یوازې ۱۱ چاپې ورځپاڼې پاتې دي او شاوخوا ۶۰۰ ښځینه خبریالانې دغو رسنیو کې پر دندو بوختې دي.

دغه راپور د مارچ د اتمې، د ښځو نړیوالې ورځې، په مناسبت لیکل شوی، چې په ځانګړې توګه د هېوادمېشتو، په ګاونډیو هېوادونو کې پاتې او بهر ته د کډوالو افغان ښځینه خبریالانوپر ستونزوتمرکز کوي. موخه دا ده، چې د دغو مېرمنو د ستونزو په اړه نړیوال پام راواړول شي.

الف -په هېواد کې د خبریالانو او رسنوالو د وضعیت په اړه راپور

دننه په هېواد کې د خبریالانو ډیری ستونزې، دسانسور، محدودیتونو او د رسنیو د مسلکي کارونو پرو ړاندې د خنډونو جوړېدل دي.

له بده مرغه په افغانستان کې د سیاسي نظام له بدلونه له څه باندې دوه نیمو کلونو په تېرېدو سره تراوسه هم د رسنیو د بندولو، پر رسنیو او د هغوی پر کارکوونکو د بریدونو، د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو د نیولو او وهلو ټکولو راپورونه ورکول کېږي.

طالبانو په ځلونو په بېلابېلو پلمو سره خبریالان او د رسنیو کارکونکي کواښلي او زنداني کړي دي .

د طالبانو له بند څخه د ازادو شویو خبریالانو پر بدن د وهلو ټکولو نښې د دغه ناسم وضعیت څرګند ثبوت او د بیان د ازادۍ پر ارزښتونو برید دی.

هر ځل چې داسې څه پېښېږي، کورني او بهرني سازمانونه یې غندي او اعلامیې خپروي.

که څه هم دا ډول اقدامات د خبریالانو په وړاندې د خواخوږۍ او په واکمنې ډلې د فشار راوړلو په نیت کېږي، خو داسې غبرګونونه پرطالبانو اغېز نه ښندي.

هغه موارد چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په څه د پاسه دوو کلونو کې پر خبریالانو او د رسنیو په کارکوونکو او په ځانګړې توګه بیا په ښځینه خبریالانو باندې تېل شوې دي، په لاندې ډول دي:

- معلوماتو ته نه لاسرسی، د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو خپلسرې نیونې
- د کاري مصوونیت نشتون او اقتصادي ستونزې هغه موارد دي چې ښځینه خبریالانې او د رسنیو کارکوونکې ورسره مخ دي .
- په تېرو دوو کلونو کې د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د هغو نړیوالو بنسټونو چې د خبریالانو له حقونو او د بیان له ازادۍ څخه د دفاع په موخه کار کوي کوم اغېزناک عملي ملاتړ نشته، له همدې امله زیات شمېر ښځینه خبریالانې

له دندو اړستل شوي او يا دوی خپله د امنيتي ستونزو له امله استعفاء ته اړ شوې دي، يو شمېر دغه خبريالانې په کور ناستې دي او خپلې اقتصادي اړتياوې پوره کولی نشي.

- د افغانستان په رسنيزه ټولنه کې له بدلونونو وروسته ۹۵ سلنه رسنيو خپلې ښځينه کارکوونکې له لاسه ورکړې او د ګوتو په شمېر يې بيا له ډيرو محدوديتونو سره لاس او ګرېوان دي او دا ددې لامل شوی چې پاتې خبريالانې هم د دندې د پرېښودو په فکر کې شي .دا محدوديتونه له جبري ماسکونو څخه نېولې بيا تر هغه چې ښځې بايد څنګه په رسنيو کې خبرې وکړي او ان دا چې په ګردي مېزونو کې له نارينه ميلمنو او همکارانو سره يې د ګډو خپرونو مخه نېول شوې ده.په راډيوګانو کې بيا حتی ښځو ته ددې اجازه نه ورکول کېږي چې د ټليفون له لارې له نارينه و سره خبرې او مرکې وکړي .
- د ښځينه خبريالانو په وړاندې تبعيض په افغانستان کې د خبريالانو د کار په وړاندې يو له سترو ننګونو څخه ګڼل کېږي، چې دوی نه شي کولای پروخت معلومات ترلاسه کړي .حکومتي چارواکي ان نه غواړي له ښځينه خبريالانو سره په شخصي يا تليفوني مرکې وکړي او معلومات ورکړي، دوی په مطبوعاتي او رسنيزو کنفرانسونو کې له ګډون څخه هم منع شوي دي.
- د ښځو د غږ په خپرولو بندېز؛ د افغانستان په ډېرو ولايتونو کې د غږيزو رسنيو له لارې د ښځو د غږ اورېدل هم منع دي.
- د افغانستان په رسنيو کې د پراخ سانسور شتون؛ ځيني سوژې او راپورونه چې د طالبانو د پاليسۍ خلاف وي يا د دوی په تګلارو نيوکه شوې وي له خپريدو مخکې لېرې کېږي .خبريالان د انتقادي راپورونو د جوړولو حق نه لري، دوی ان په ورځينيو راپورونو کې د خلکو د انتقادي نظرونو د انعکاس حق هم نه لري.
- هغه ميلمانه چې د سکايپ يا د نورو انلاين پروګرامونو له لارې د خپرونو سره وصل کېږي، بايد د طالبانو د خوښې خلاف څه ونه وايي او د داسې مرکو تنظيمونکي بايد مخکې له پروګرام څخه له مرکه کونکو سره په دې اړه خبرې وکړي، چې د طالبانو د پاليسۍ خلاف له څه ويلو ډډه وکړي، که نه نو د پروګرام ويانډ به ددوی تر پوښتنې لاندې راشي.
- په خپرونه کې ښځينه ميلمنې ان په انلاين بڼه هم د ماسک اغوستلو ته اړ کېږي او د نه اطاعت په صورت کې بايد د رسنيو مديران ځواب ورکړي.
- هغه خبريالان چې په هر دليل نيول کېږي، کورنۍ او همکاران يې د دغه موضوع د رسنيزه کولو اجازه نه لري او ددې موضوع د نه مراعات کولو په صورت کې بايد د رسنيو مديران او د ياد خبريال د کورنۍ غړي ځواب ورکړي.
- د رسنيو د ټولو کارکوونکو نوملړ د دوی له ټولو جزياتو، پېژندپاڼو او انځورونو سره بايد د رسنيو مدير د طالبانو استخباراتو ته وسپاري .په رسنيو کې د شامل شوي نوي کارمند پروفايل هم بايد طالبانو ډلې ته واستول شي.
- په رسنيو کې د ځينو کلمو لکه :طالب، طالب ډله، وژنه، وژل، ځانمرګی، ملېشه، وحشت، چاودنه او په لسګونه نورې کلمې دي چې د طالبانو د خوښې خلاف وي، هم په رسنيو کې منع شوي دي.
- په ټولنيزو خپرونو کې خندا او ټوکې کول د ټولو رسنيو په ځانګړې توګه د ښځو لپاره په بشپړه توګه منع شوي دي.

- په رسنیو کې د ښځو او کورنیو لپاره د ځانګړو روغتیايي موضوعاتو لکه امیندواری، ماشوم زیږون، واده، طلاق او داسې نور هم منع شوي دي.
- په ځینو مواردو کې د طالبانو د فعالیتونو اړوند خبرونه په مثبت ډول خپرېږي، پر خبریالانو نغدې پیسې وېشل کېږي چې په خپلو رسنیو کې يې خپاره کړي.
- په تیرو شلو کلونو کې د طالبانو پر ضد د جاسوسۍ یا پروپاګند په پلمه د خبریالانو وهل او ټکول
- په رسنیو برید کول، پرته له کوم دلیل او مخکینۍ خبرتیا څخه د رسنیو د چاپېریال کنټل
- د ټولو بهرنیو خبرتیاوو، فلمونو او سریالونو، موسیقي او د تفریحي پروګرامونو لرې کول
- د پیسو او معاشونو د ورکولو له لارې د خبریالانو او رسنیو کنټرول
- د خبرې پوښښ لپاره د هېواد نورو ولایتونو ته د ښځینه خبریالانو د تګ مخنیوی

ب -په ګاونډیو هېوادونو کې د مېشتو خبریالانو د وضعیت په اړه راپور

.1پاکستان

په افغانستان کې د طالبانو له واکمنۍ وروسته په سلګونه خبریالان له افغانستانه ووتل او یا هم د سیمې هېوادونو لکه

پاکستان او ایران او یا هم اروپايي او امریکايي هېوادونو ته کډوال شول.

که څه هم په پاکستان کې د مېشتو خبریالانو کره شمېرې په هېڅ رسمي اداره کې نشته، خو د بې پولې خبریالانو سازمان د وروستي راپور له مخې، دا مهال شاوخوا ۲۰۰ خبریالان اروپايي او امریکايي هېوادونو ته د خپلې کډوالۍ اړوند کارونو پایلې ته په تمه دي او په ډېرې خواشینۍ سره چې په ګاونډیو هېوادونو کې د خبریالانو ژوند تر ټولو ناوړه او ستونزمن حالت لري.
افغان خبریالانو په ځانګړې توګه ښځینه خبریالانې چې په پاکستان کې مېشتې دي خپلې ستونزې په لاندې ډول څرګندوي:

- د پاکستان د ویزې په ترلاسه کولو یا نوي کولو کې ستونزې؛ په تور بازار کې افغانانو ته د پاکستان د ویزې بیه له ۴۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ ډالرو پورې ده او ډېرې خبریالان د بېکارۍ له امله په ناوړه اقتصادي وضعیت کې دي او د دومره زیاتو پیسو ورکولو توان نه لري.
- په پاکستان کې د مېشتو خبریالانو تر ټول بله لویه ستونزه د کور په کرایه کولو کې ده، د افغانانو لپاره د اعتبار وړ ویزې د نه درلودو له امله زیات شمېر د کورونو خاوندان خپل کورونه هغو افغانانو ته په کرایه نه ورکوي چې د دغه هېواد ویزه نه لري.

- د خبریالانو لپاره د کاري فرصتونو نشتوالی، په ځانګړې توګه د ښځینه خبریالانو لپاره
- د خبریالانو د کډوالۍ د قضیو په څېړلو کې ډېر وخت او د نړیوالو ژورنالیستیکو سازمانونو د هغو غوښتنو ته په ځواب ورکولو کې پاتې راتلل، چې د دغو خبریالانو د ډېر برخلیک لامل شوي دي.
- د خبریالانو د کډوالۍ د قضیو په څېړلو کې ډېر وخت نیول او د نړیوالو سازمانونو له خوا د خبریالانو غوښتنو ته نه ځواب وېل، چې د دغو خبریالانو د بې برخلیکه پاتې کېدو لامل شوی دی.
- له خبریالانو سره د بشردوستانه مرستو کمېدل او یا په بشپړه توګه بندېدل
- د پاکستان له رسمي ژبو سره نا بلدتیا
- په ببلابېلابېلو پلمو د پولیسو له خوا د افغان خبریالانو ځورول
- له افغانانو څخه د کور د مالکانو له خوا فشارونه او سوء استفاده
- او...

فریده میدانوال هغه خبریاله ده چې د افغانستان په ببلابېلو رسنیو کې د کار کولو شاوخوا پنځلس کلنه تجربه لري او له یو کال راهیسې په پاکستان کې مېشته ده.

نومورې وایي، هیڅ یوه سازمان تراوسه نه په مالي او اقتصادي برخو کې او نه هم د انتقال په برخه کې ورسره همکاري کړې.

نسرین شهرزاد بشیر چې په افغانستان کې د خبریالې په توګه د کار کولو څه باندې شل کلنه تجربه لري، بالاخره د روان کال د فبروري په لومړیو کې وروسته له هغه چې د کډوالۍ دوسیه یې څو ځلې رد شوې وه، فرانسې ته ولاړه.

ډېر شمېر خبریالان وایي، د یوه شفاف میکانیزم نشتوالی او د نړیوالو بنسټونو له خوا د کډوالۍ قضیو کې دوه کونی چلند د دې لامل شوی چې د دې ښېر په اړه ناهیلي شي.

دوی له هغو بنسټونو څخه چې د خبریالانو له حقونو څخه د دفاع په موخه کار وي، غواړي چې د خبریالانو د حقونو د خوندیتوب لپاره دې د دوی د حقونو د خوندیتوب لپاره هڅې وکړي.

۲ -په ایران کې د خبریالانو وضعیت

په افغانستان کې د رژیم له بدلېدو او د تاوتریخوالي د پېښو له زیاتېدو او پر خبریالانو د بندیزونو له لګولو وروسته خبریالان له دوو کلونو راهیسې د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوي دي.

د افغانستان د خبریالانو د مرکز د موندنو له مخې، په تېر کال کې شاوخوا ۷۰ خبریالان نیول شوي او په هېواد کې د خبریالانو پر وړاندې تر ۲۰۰ ډېرې د تاوتریخوالي پېښې ثبت شوې دي.

په همدې حال کې لسګونه افغان خبریالان د خپل ژوند د ژغورلو او یا اروپایي او امریکایي هېوادونو ته د لېږد په هیله ایران ته کډوال شوي دي .

ډیری دغه خبریالان په ایران کې له ناڅرګند برخلیک سره مخ دي او د کډوالۍ شپې او ورځې له ستونزو سره تېروي.

په ایران کې مېشت خبریالان له هغو بنسټونو شکایت کوي چې د خبریالانو ملاتړ کوي، ځکه چې دغو ملي او نړیوالو بنسټونو له دوی سره هېڅ کومه همکاري نه ده کړې او له دوه نیمو کلونو وروسته یوازې د لږ شمېر خبریالانو دوسیې څېړل شوې دي.

ذکیه علیزاده چې د جمهوریت له سقوط وروسته ایران ته کډواله شوې، د خبریالانو د ملاتړ د سازمانونو اقدامات په دغه هېواد کې د خبریالانو د ملاتړ لپاره ډېر کم او ناکافي بولي او زیاتوي چې هېڅ داسې ارګان نشته چې ددوی ستونزو ته ځواب ووایي .

دوی وایي، یوازې د ځینو ملاتړو سازمانونو له هغې جملې د بې پولې خبریالانو (RSF)د اېمیل له لارې په اړیکه کې دي.
په ورته وخت کې ذکیه علیزاده د افغان کډوالو لپاره په ایران کې اوسني شرایط د پخوا په پرتله ډیر ستونزمن بولي او وایي :
»په ډیرو ځایونو کې مورږ باید د بانکي کارت له لارې خرید وکړو او په مترو کې هم کارت ته اړتیا لرو او په داسې حال کې چې ډیری خبریالان نشي کولی د ویزې د مودې د ختمیدو یا نشتوالي له امله د بانک کارت لپاره غوښتنه وکړي او دې کار د دوی ستونزې دوه چنده کړې دي".
د افغانانو د ویزو نه تمدید اروپایي هېوادونو ته د خبریالانو د لېږد بهیر له ستونزو او ننګونو سره مخ کړی او په عین حال کې د اوسېدو قانوني اسنادو نشتون په ایران کې مېشت خبریالان هم له جبري شړلو سره مخ کړي دي او دې مسلې هم خورا ویره او اندیښنه رامنځته کړې ده.
په ایران کې مېشته یوه بله افغانه خبریاله حلیمه رضایي په ایران کې د خبریالانو د لیږد د ځنډیدو په اړه شکایت کوي او وایي:
هغه سازمانونه چې زه ورسره په تماس کې یم ټینګار کوي چې د دوی د کډوالۍ دوسیې له پاکستان او یا نورو هېوادونو څخه مخکې وړي، ځکه له ایران سره د ډیرو سیاسي شخړو له امله نشي کولی د هغوی دوسیې له ایران څخه مخکې یوسي.
یادو ستونزو د کډوالۍ د چارو د فعالانو غږ هم پورته کړی دی.
په ایران کې د کډوالو چارو فعاله اصفه ستانکزی په دغه هېواد کې د افغان کډوالو ستونزې د اندیښنې وړ او د پاملرنې وړ بولي او له نړیوالو سازمانونو غواړي چې د افغان خبریالانو د ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي.
مېرمن ستانکزۍ وایي" :په ایران کې شاوخوا درې میلیونه افغانان قانوني اسناد نه لري او د ایران د پولیسو له خوا د اجباري اېستلو له ګواښ سره سره په دغه هېواد کې له ډېرو حقونو او اسانتیاوو بې برخې دي."
یو شمېر خبریالان چې د کډوالۍ دوسیې یې له دغه هېواده څخه مخکې نه دي تللي، د وتلو د وېرې له امله په ناقانونه توګه او د قاچاق له لارې اروپایي هېوادونو ته یې د تک هوډ کړی دی.
یوه بله افغان خبریاله چې نه غواړي د امنیتي ستونزو له امله یې نوم واخیستل شي وایي، چې له ټېرو دوو کلونو راهیسې په ایران کې له ګڼو ستونزو سره مخ ده او زیاتوي :یوازې دوه اروپایي هېوادونه دي چې له ایران څخه د افغان خبریالانو د اېستلو په برخه کې همکاري کوي، چې د هغوی کارونه هم ډیر ورو پر مخ ځي.
له همدې امله ډېری خبریالان د ایراني پولیسو د ناسم چلند او د شړلو د وېرې له امله د قاچاق له لارې نورو هېوادونو ته تک ته اړ کېږي" .

ج -په کانادا او امریکا کې د خبریالانو وضعیت
په افغانستان کې د خبریالۍ کار تل له ننګونو ډک دی او هم ګواښونه له ځانه سره لري.
د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته د خبریالانو پر وړاندې ګواښونه هم زیات شوي دي او افغانستان د خبریالانو لپاره د نړۍ یو له ناامنو هېوادونو څخه شو.
زیات شمېر خبریالان د هیواد پریښودو ته اړ شول او په دې منځ کې بیا یو شمېر خبریالان کانادا ته کډوال شول.

هغه خبریالان چې په کانادا کې ژوند کوي له ګڼو ننګونو سره مخ دي:

- د ژبې ستونزه او د کانادا په رسنیو کې د خبریالۍ له کاري میتودونو سره نابلدتیا
- د کانادا د رسنیو سیستم سره نابلدتیا، د پراخو اړیکو او شبکو نشتوالی

- د کانادا له سیاسي او کلتوري تاریخ سره نابلدتیا او د ټولنې په اړه پوره نه پوهاوی
- د دغه هېواد په رسنیو کې د رسمي اسنادو او کاري تجربې د نه لرلو ستونزه
- د خبریالۍ او رسنیو په برخه کې لږ فرصتونه

خاطره احمدي چې له درېو میاشتو راهېسې په کانادا کې ژوند کوي او د افغانستان د رسنیو په برخه کې اته کلنه کاري تجربه لري، هڅه کوي چې د دغه هېواد په رسنیو کې د کار مناسب فرصت ترلاسه کړي .
مېرمن احمدي وایي، په کانادا کې د خبریالۍ دنده دومره پراخه نه ده او په کانادا کې د مېشتو خبریالانو د ملاتړ لپاره ډېر بنسټونه نشته .
احمدي نوی چاپېریال او نوې ژبه د خبریالۍ په توګه د کار د بیا پیل لپاره د ستونزو یوه برخه ګڼي.

د کانادا د رسنیو په ټولنه کې د افغان خبریالانو د ادغام فرصتونه:
د خبریالانو د بشري حقونو سازمان یا **(Journalist for Human rights)** په کانادا کې د خبریالانو د ملاتړ لپاره کار کوي او دغه سازمان په ۲۰۲۳ کال کې په کانادا کې د میشتو افغان خبریالانو لپاره لس فیلوشپونه اعلان کړل، چې له مخې یې لس خبریالان وتوانېدل د کانادایي رسنیو کاري چاپېریال ته لار پیدا کړي .
د دې ډول فیلوشپونو موخه د کانادا په رسنیو کې د افغان خبریالانو لپاره د یو کلن کاري فرصت برابرول دي، څو د دغه هېواد د خبریالانو له کاري سیسټم سره اشنا شي او په کانادایي رسنیو کې د کار کولو یو کلنه کاري تجربه ترلاسه کړي.
زحل احد هغه خبریاله ده، چې د نړیوالو رسنیو لکه بي بي سي او الجزیرې سره د کار کولو تجربه لري، د طالبانو له واک ته رسیدو وروسته د هېواد پرېښودو او کانادا ته کډوالۍ ته اړ شوه.
نومورې وکړای شول، چې د دې فیلوشپونو کټونکې شي او د 2023 کال په سپټمبر میاشت کې یې خپل کار د **چتلین (Chatelaine)**مجلې سره د مرستیال مدیرې په توګه پیل کړ.
مېرمن احد د شبکې جوړول او د راپورونو لپاره د سرچینو موندل د خپلې نوې دندې لپاره ننګونه ګڼي .
نومورې د فیلوشپ پروګرام تر چټر لاندې د رسنیو د کار یو کلنه تجربه ډېره مهمه او ارزښتناکه ګڼي او وایي : که څه هم دغه فیلوشپونه ډېر کم دي او په رقابتي چاپېریال کې یې د ترلاسه کولو چانس ډېر کم دی، خو دغه فیلوشپونه او کاري فرصتونه هغو خبریالانو ته چې په هر ځای کې دي، مرسته کوي چې هغه تجربې چې ترلاسه کوي په راتلونکي کې د کار او اوږدمهاله یا دایمي قرارداد په ترلاسه کولو کې استفاده وکړي، پرته له دې به د کانادا په رسنیو کې د کار موندل ډېر ستونزمن وي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې هم د خبریالانو وضعیت د کانادا په شان دی .په امریکا کې د مېشتو خبریالانو په اند په نوي چاپېریال کې ددوی ژوند له ګڼو ننګونو سره مخ کړی دی:

- په امریکا کې د خبریالانو سازمانونو ته نه لاسرسی او نابلدتیا
- د ژبې د زده کړې ننګونه او په امریکایي رسنیو کې د خبریالۍ له مېتودونو سره نابلدتیا

- د کار موندلو او د خبریالۍ په روزنیزو پروګرامونو د شاملېدو ستونزه په ورته وخت کې، داسې خبریالان هم شته چې په امریکا کې ژوند کوي او له یوې کورنۍ یا بهرنیو رسنیو سره انلاین همکاري کوي .

دغه خبریالان هم له دوو سترو ننګونو سره مخ دي:

- له دننه افغانستان څخه کره معلوماتو ته نه لاسرسی
- په افغانستان کې د خپلو کورنیو غړو د امنیت لپاره سانسور

په اروپایي هیوادونو کې په جلاوطنۍ کې د خبریالانو ننګونې

په اروپا، امریکا او کانادا کې د خبریالانو وضعیت یو څه یو بل ته ورته دي او د دواړو کټګوریو لپاره ورته ننګونې شتون لري، په دې توپیر سره چې د اروپایي ژبو د ستونزو تناسب د انګلیسي په پرتله خورا لوړ دی، ځکه انګلیسي ژبه بیا نړیواله ژبه ده.

په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شل کلن حضور د رسنیو کارکوونکي دې ته اړ کړل چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول انګلیسي زده کړي .

هغو خبریالانو چې دا ژبه تر یوه حده زده کړې وه، اوس د امریکا، کانادا او ان په اروپایي هېوادونو کې له کمو ستونزو سره مخ دي، خو بیا هم په اروپا کې د ژبې توپیر له امله کډوالو ته اجازه نه ورکول کیږي چې له دې پرته نورې ژبې وکاروي، مګر په هغه صورت کې په ځانګړو قضیو کې یې بدیل نه وي.

دا څرګنده ده، هغه خبریالان چې اروپا ته کډوال شوي باید له پیل څخه د ژبې زده کړې کورسونه پیل کړي او تر هغه چې دوی د ژبې مطلوب او د منلو وړ کچې ته ونه رسیږي، دوی ته نه د زده کړې اجازه ورکول کیږي او نه د کار کولو په ځانګړې توګه په رسنیو کې چې فصاحت ته اړتیا لري .

له همدې امله، په نوي چاپېریال کې د متفاوته کلتور او ځانګړو قواعدو سره د ژبې او ادغام ننګونه په اروپا کې د مېشتو خبریالانو یو له خورا مهمو ننګونو څخه دی.

په پای کې باید هېره یې نه‌کړو، چې د افغانستان دننه او بهر کې د خبریالانو د ملاتړکوونکو بنسټونو د پرلپسې هڅو پر بنسټ د شکایتونو د څېړلو او د رسنیزو سرغړونو د څېړلو کمېسیون په افغانستان کې خپل فعالیت بیا پیل کړ او اطلاعاتو ته د لاس رسي ریاست هم په دې برخه کې کار پیل کړ .

دلته د اندیښنې وړ خبره دا ده، هغه قضیې چې د طالبانو له نظره د رسنیو سرغړونې ګڼل کیږي، بې له شکه د ژورنالیزم د اصولو او نړیوالو کنوانسیونونو خلاف دي.

په ځینو مواردو کې ملاتړي سازمانونه هم توانیدلي چې په طالبانو د فشار او د خبریالانو د نیولو په مسئله کې د منځګړیتوب له لارې هغوی د طالبانو له منګولو خلاص کړي، خو د یو شمېر بندیانو د برخلیک په اړه تر اوسه هم معلومات نشته.

د افغانستان د رسنیو د ټولنې او د نړیوالې ټولنې په بېلابېلو هېوادونو کې د مېشتو افغان خبریالانو کډه غوښتنه په ځانګړې توګه له هغو نړیوالو بنسټونو چې د خبریالانو له حقونو څخه دفاع کوي، دا ده چې د خبریالانو او د افغانستان د رسنیو د ټولنې د ننګونو د هواري او مخنیوي لپاره جدي کار او هڅې وکړي او د افغان خبریالانو په ملاتړ په افغانستان کې د بیان د ازادۍ د خاموشه کېدو مخه ونیسي.

له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان
د ښځینه خبریالانو د ملاتړ ځانګه